# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۱۱ ګڼه / شنبه ۱۳ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰٤ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۲۳ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


رمضان کریم ۱٤٤٥ق

اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۹
سحر: ٤:۲٦

## اذربایجان د کانونو او پوهنې برخه کې پانګونه کوي

په کابل کې د اذربایجان سفیر الهام محمدوف د ریاست‌الوزرا ادري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي سره په لیدنه کې ویلي، چې اذربایجان د کانونو د استخراج، ښوونې او روزنې او د اسان خدمت د پراختیا په برخو کې په افغانستان کې پانګونه او همکاري کوي.

ښاغلي محمدوف زیاته کړې چې په کابل کې د اذربایجان د سفارت پرانیسته له افغانستان سره د دغه هېواد د غوره اړیکو ځرګندونه کوي.

ورته مهال، مولوي عبدالسلام حنفي هم په دغه لیدنه کې ویلي، چې اسلامي امارت په هېواد کې د هر ډول پانګونې هرکلی کوي او د پانګوالو لپاره به تولې اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي.

# تېر کال نږدې یو میلیارد او ۸۱۱ میلیونه ډالره سوداګري شوې



د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولین وایي چې افغانستان په تېر مالي کال کې د یو میلیارد ۸۱۱ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات ترسره کړي دي.

د یاد وزارت ویاند آخندزاده عبدالسلام جواد باختر اژانس ته ویلي چې په تېر ۱٤۰۲ لمریز کال د یو میلیاد او ۸۱۱ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات شوي چې دا د تېر ۱٤۰۱ مالي کال په نسبت شپږ سلنه کموالی ښيي.

د ښاغلي جواد په قول چې د صادراتو د سږنۍ کچې د کموالي یوه عمده وجه ګاونډیو هیوادونو ته د ډېرو سکرو نه ... ۳مخ

## دښځینه سوداګرو د ظرفیت لوړونې په پار هڅې



د اسلامي امارت تر بیا واکمنۍ وروسته دا لومړی ځل دی چې یو شمېر افغانې سوداګرې مېرمنې د خپلو محرمینو په شتون کې بهر ته سفر کوي.

ویل کیږي چې دغه مېرمنې ترکمنستان ته رسېدلې او هلته یې له ترکمنو ښځینه سوداګرو سره یو لړ هوکړې لاسلیک کړې دي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت په قول، ۱۵ ښځینه سوداګرو له خپلو محرمو سره د ترکمنستان په سفر تللي او هلته یې یو شمېر سوداګریز هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.

صنعت او سوداګرۍ وزارت وایي چې دوی هڅه کوي، د ښځینه سوداګرو د ظرفیت لوړونې او د هغوی تولیداتو ... ۳مخ

## د قوشتېپې کانال دویم فاز کارونه په چټکۍ روان دي

د قوشتېپې کانال د پروژې مسوولین وایي چې اوس مهال د دغې پروژې د دویم فاز کارونه په جوزجان او بلخ ولایتونو کې په چټکۍ سره روان دي او درې سلنه کارونه یې پر مخ تللي دي.

د دې پروژې دویم فاز ۱۷۷ کیلومتره اوږدوالی لري او د کار له چټکتیا یې وړاندې له وړاندې د بشپړاوي وړاندوینه کېدای شي. ورته وخت کې یو شمېر بزګران او د ځمکو خاوندان چې دغه کانال سره نږدې پر کرکیله بوخت دي، خوښي ځرګندوي، چې د دغه کانال تر جوړېدو وروسته به یې په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

قوشتېپه د هېواد لویه او حیاتي پروژه ده، چې ۲۸۵ کیلو متره اوږدوالی لري او د یوه کرنیز افغانستان لپاره غوره زېری راکوي.



## سفر هفت گردشگر روسی به‌ننگرهار




مسوولین اطلاعات و و فرهنگ ننګرهار گفته، که هفت تن خارجی از برخی جاذبه های تاریخی وتفریحی ننگرهار دیدن کردند.

این گردشگران به خبرنگارمحلی آژانس باخترگفتند که افغانستان، به ویژه ننگرهار زیباست؛ چون افغانستان اکنون امن است، از همه می خواهم که به افغانستان سفرکنند و ازجاذبه های تاریخی وطبیعی این سرزمین دیدن نمایند.

با روی کار آمدن امارت اسلامی و تامین امنیت سرتاسری درافغانستان، روند سفر گردشگران خارجی به افغانستان، روز افزون است.

## ډېر ژر به د عینک کان کیندنې پیل شي



د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او فرهنګ مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي د لوګر د مس عینک کان د کیندنې مسوول ایم سي سي شرکت له نوي رئیس سونګ ون بینګ سره کتلي دي.

په دغه کتنه کې ددې شرکت رییس ویلي چې د مس عینک تاریخي اثار یوازې د افغانستان نه بلکي د ټول بشریت ګډه پانګه ده. ۳مخ


قحطی ویرانگر قریب الوقوع در غزه ۲

افغانان له پاکستاني واکمنو سره څه وکړي؟ ۲


موږ او د خپلواکۍ جنګونه؟ ۲


## سرمقاله

# د دیني قیادت اصلاح او روزنې ته جدي پاملرنه په کار ده!

پرته له شکه چې دیني علماء، امامان، استادان او خطیبان د ټول امت مالګه ده، خو په اوسنۍ زمانه کې بیا د نورو په نسبت افغانستان کې د یادې طبقې اغېز او نفوذ خورازیات دی. دوی د عامو خلکو په زړونو کې ځکه ډېر ژور ځای لري چې د خپلې عقیدې اصول او ټولې دیني لارښوونې ترې زده کوي او خپل لارښوونکي یې ګڼي. زموږ هېواد او د افغان ملت ګردو پرګنو کې د دیني قیادت رول او ځواک له دې هم ډېرښه جوتېږي چې تېره یوه پېړۍ کې یې د انګریزانو، شورویانو او امریکایانو په څېر ځواکمنو بهرنیو یرغلګرو پر خلاف داسې مېړنۍ مبارزه کړې چې ټول ملت یې پر اخلاص قناعت هم کړی او ترڅنګ یې درېدلي هم دي. همدارنګه په کور دننه منځ ته راغلي فساد، فتنو او شخړو پر خلاف یې هم په ډېره ښه توګه خپل نفوذ کارولی. د مثال په ډول د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته چې د هغوی لاسپوځې اداره هم رنګه او د کورنۍ جګړې په ترڅ کې یو مخ شوکماري او ملوک الطوایفي پیل او د ځینو پردیپالو له لوري هېواد له حتمي تجزیې سره مخ شو، نو افغان دیني قیادت د مرحوم ... ۳مخ

## ساخت پارک صنعتی در ناحیه ۱۷ کابل



وزارت شهر سازی و مسکن از ساخت پارک صنعتی در ناحیه هفدهم خیر خانه شهر کابل خبر داد.


دفتر مطبوعاتی وزارت شهر سازی و مسکن با ارسال این خبر به آژانس باختر گفته است : نشست به ریاست شیخ حمدالله نعمانی سرپرست آن وزارت با نمایندگان شاروالی کابل، وزارت های زراعت، مالداری و آبیاری، اطلاعات و فرهنگ، اداره حفاظت از محیط زیست و اداره آبرسانی در مورد پارک صنعتی جهان واقع ناحیه هفدهم شهر کابل برگزار و تبادل نظر شد.

دراین نشست سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن به شاروالی کابل و بخش اراضی وزارت زراعت وظیفه سپرد که در مورد انتقال و مالکیت زمین معلومات حاصل کنند و در جلسه ... ص۳

## آماده گی سرمایه گذار ترکی در معادن‌افغانستان است

یک سرمایه گذار ترکی درملاقات با سرپرست وزارت معادن و پترولیم، بیان داشت که آماده سرمایه گذاری در معادن سرب و تالک در افغانستان است .

دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم با نشر این خبر گفته است: شیخ شهاب الدین دلاورسرپرست آن وزارت از علاقمندی این سرمایه گذار روی سرمایه گذاری دربخش معادن در افغانستان استقبال کرده به وی اطمینان داد که در راستای فراهم سازی زمینه سرمایه‌گذاری مطابق قانون و طرزالعمل معادن همکاری خواهند نمود.



## افغان ولس په پوره مېړانه د هېواد دفاع ته چمتو دی

**تبصره**

تاریخ ثابته کړې، چې افغانان د سر د پاسه سر نه مني او تل یې د خپل هېواد، خلکو، کلتور او دین څخه د دفاع په لاره کې قرباني ورکړې ده. تازه د هېواد ختیځ او سویلي ګاونډي یو ځل بیا له افغانانو سره د ټکر هڅه کړې او یو شمېر لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي یې بې مسئولیته خبرې کوي او له افغانستان سره د اړیکو د خرابولو په برخه کې ګامونه اخلي. دوی ته باید وویل شي، چې افغانان د مینې، وروروولۍ پر مېلمه پالنې مشهور خلک دي او په اسانۍ تاوتریخوالي ته مخه نه کوي، خو که چا ورسره د تاوتریخوالي لاره غوره کړه، نو بیا تیری کوونکي تاوان کوي، ځکه تاریخ کې چې چا هم افغانستان ته راکتلي نو دلته له یو حیرانونکي حالت سره مخ شوي او داسې ځواب یې موندلی، چې بیا یې هېڅ کله کابل ته حتا په چکر سره د راتګ زړه نه دی کړی. دا منم چې افغانان د پردیو جګړو او تېریو له امله شاته پاتې دي، خپلې وسلې نه لري او عصري ټکنالوژۍ کې خو بېخي کمزوري دي، خو ناسم ګاونډیان او په ټوله کې نړۍ باید پوه شي، چې افغانان یوه ځانګړې جذبه لري او د همدې جذبې پر اساس ان په زانګو کې ماشوم هم دېته تیار دي، چې له کابل، جلال اباد، پېښور، کوټې، کندهار، هرات او مزار شریف څخه ... ۳مخ

# قحطی ویرانگر قریب الوقوع در غزه


منبع: فارین افیرز - ترجمه و تخلیص: احمد ضیاء سروری

بر اســاس ارزیابی های نهاد بین المللی بررســی قحطی، نوار غزه اکنون در آستانه قحطی کشــنده قرار دارد. مقام های ارشد سازمان ملل به شورای امنیت سازمان ملل هشدار داده اند که قحطی در غزه قریب الوقوع است. اگر قحطی رخ دهد تعداد مردم غزه که بر اثر گرســنگی یا ابتلا به بیماری جانشــان را از دست خواهند داد، ممکن است از تعداد تلفات غیرنظامی در جنگ اســرائیل و حماس پیشی بگیرد. هنوز هم می توان از قحطی جلوگیری کرد. با این وجود، پنجره عمل به ســرعت در حال بسته شدن اســت. تا زمانی که جنگ متوقف نشود و اســرائیل تاکتیک های محاصره ای را که مانع از کمک رســانی به میزان بزرگ می شــود متوقف نکنــد نماینده گی های کمک رســانی نمی توانند از قحطی تمام عیار و تلفات ناشی از آن جلوگیری نمایند. در عصــر معاصر قحطی هم قابل پیش بینی و هم قابل پیشــگیری اســت. هنگامی که پیش بینی ها حاکی از قحطی قریب الوقوع اســت ســازمان های بشــر دوستانه اســتراتیژی های آزموده شــده ای برای جلوگیری از بدترین پیامــد ها دارند. با این وجود، این اســتراتیژی ها تنها در صورتی موفق می شــوند که نهاد های بشردوستانه از فضا و امنیت لازم برخور دار باشــند. در حال حاضر رفتار اسرائیل در زمان جنگ هم ســرعت غزه به سوی قحطی و گرسنگی را تســریع می بخشد و هم مانع استقرار منابع لازم برای جلوگیری از بروز قطحی می‌شود. یک کاروان کمک رسانی سازمان ملل توســط نیروهای دریایی اســرائیل هدف حمله قرار گرفت. در نتیجه، ســازمان ملل متحد مجبور شــد تحویل مواد غذای به شــمال غزه را برای مدتی متوقف کند. نماینده گی های کمک رســان از منابع، دسترســی و امنیت مورد نیاز برای پیشگیری از قحطی محروم هســتند. تاسیسات سازمان ملل و ســازمان های غیر دولتی بارها بر اثر بمباران اســرائیل مورد حمله قرار گرفته است. بازرســی های اسرائیل به طور معمول و خود ســرانه مانع از رســیدن کمک های حیاتی به غزه می شود. به محض ورود کمک ها به داخل غزه باید درخواســت صدور مجوز به اسرائیل ارائه شود، در خواســت هایی که اغلب رد می شــوند. رفتار نظامی اسرائیل بر سر راه فعالیت گروه های کمک رســانی از موانع اصلی بر ســر راه یک تلاش معنــا دار برای ارائه کمک های بشردوســتانه به مردم غزه است. زمان آن فرا رســیده که آمریکا به طور کامل از اهرم فشــار خود در قبال اســرائیل در خدمت عملیات کمک رســانی بزرگ و جامع اســتفاده کند. در غیر آن جایگاه و اعتبار آمریکا در خاورمیانه به صفر تقرب خواهد یافت. اولین مولفه این عملیات باید اعمال فشــار در مقیاس بزرگ برای باز گرداندن دسترســی به غذا از طریق ارسال کمک و ازســرگیری واردات تجاری باشد که پیش تر بخــش عمده مواد غذای غزه از طریق آن تامین مــی گردید. این تلاش هم چنین به شدت به گسترش واردات ســوخت به منظور راه اندازی مجدد نانوایی ها و تامین ســوخت پخت و پز برای خانوارها بستگی دارد. یک سیستم نظارتی باید به دسترس بــودن مواد غذای در هر منطقه از غزه نظارت کند. خط بعدی تلاش باید به موارد در حال افزایش سریع سوء تغذیه رسیدگی کند. سوء تغذیه حاد که پیش از جنگ ناچیز بود، اکنون بیش از ۱۵ درصد از کودکان شــمال غزه را در نیمه راه تا آســتانه قحطی ســی درصد تحت تاثیر قرار داده است. طبق برنامه جهانی غذای سازمان ملل چنین کاهشــی در وضعیت تغذیه در سه ماه گذشته بی سابقه بوده است. ایجاد یک سیستم نظارتی برای ســوء تغذیه، راه انــدازی مراکز معالجوی بــرای معالجه موارد حاد و واردات حجم وســیع از مواد غذای آماده برای اســتفاده به کــودکان کمک می کند تا به ســرعت از میزان وسیع ســوء تغذیه جلوگیری بعمل آید. یکی دیگر از اولویت های اصلی باید تعمیر و تامین مجدد امکانات صحی باشــد، تا سیستم صحت عامه دوباره راه اندازی شــود. بخش عمده مرگ و میرها در قحطی ناشی از شیوع عفونت در میان جمعیت های اســت که به دلیل گرســنگی طولانی مدت ضعیف شده اند. پیشــگیری و معالجه بیماری یک دفاع حیاتی در برابر خطر قحطی اســت، اما نظام صحی غزه تقریبا فراتر از توصیف ویران شــده اســت. تعداد معدودی از تاسیسات باقی مانده غرق در صدمات ناشــی از جنگ اســت و ظرفیت کمــی برای مدیریت بیماری های عفونی باقی گذاشــته اســت. برقراری مجدد نظارت صحی اولیه برای شناسایی شــیوع بیماری‌های عفونی بســیار مهم است. بســیاری از این بیماری ها از طریق آب آشــامیدنی آلوده ســرایت می کنند و آب تمیز در غزه کمیاب اســت. اســرائیل لوله های آبرسانی به نوار غزه را مســدود کرده است. این لوله ها در برخی مناطق خاموش بســته باقی مانده اند و بمباران اســرائیل بسیاری از زیرساخت های توزیع آب را از بین برده اســت. هم به دلیل عدم دسترسی بشردوستانه و هم به دلیل رد لوله های جایگزین و ســایر لوازم تعمیر توســط بازرسان اســرائیلی از ترمیمات جلوگیری می شــود. حتی توزیع قرص هــای کلر برای توانمندســازی خانوارها به منظور تصفیه آب آشــامیدنی توســط بازرسان اسرائیلی مسدود شــده اند. همه این مــوارد باید فورا تغییر کنند. غزه هــم چنین نیاز به تزریق انبوه مــواد مورد نیاز برای تامین پناهگاه موقت دارد. فقدان ســرپناه به وخامت جســمانی افراد به شدت دامن می زند. اکثر جمعیت غزه اکنون آواره هســتند. بسیاری از زیرساخت های مسکونی نیز ویران شــده اند و مردم غزه مجبور هســتند مصالح اســکلت بندی را از زیر آوار بیرون بیاورند. با این وجود، بازرســان اســرائیلی کماکان مانع از ورود بســیاری از مواد مورد نیاز برای تامین پناهگاه های بشردوســتانه می شوند.



# افغانان له پاکستاني واکمنو سره څه وکړي؟

فاروق غلجی



ټوله نړۍ خبره ده چې یو خت پرنګی ډېر په زور کې و، لوی هندوستان یې سلګونه کاله تر اشغال لاندې و، تر دې چې بیا راغلل له اباسینه راپورې وتل پر لوی افغانستان یې برید وکړ او بالآخره یې په جنګونو او یرغلونو پېښــور، کابل، کندهار او ټــول هېواد رانه لاندې کړ. زموږ نیکونو خپل وس وکړ خو د هغوی لښــکر ډېر او پوره وســله وال و، نــو ایله یې دومره وکړی شــول چې تر خیبر، کورمې، ژوب او چمن پورې یې شــاته بوځي. موږ او دوی پر همدې کرښه ولاړ پاتې شولو څو چې څلور پنځوس کاله وروسته انګریزان د نړۍ په نورو برخو کې هم تر فشــار لاندې راغلل، له هنده یې کډې بار کړې خو څه د هند او څه د افغانســتان پر اشغالي سیمه یې د پاکســتان په نامه یوه نوې پاچاهي اعلان کړه. کافر انګریز ولاړ خو له بده مرغه د پاکســتان نوي مسلمان واکمن ځان ناخبره وا چاو او د افغانســتان حکومت ته یې دومره هم و نه ویل چې له اباسینه راپورې خو ستاسې وطن دی، مګر اوس د پرنګي له خوا زموږ په نوم شو نو ایا تاسې په دې وېش خوښ یاست، خپه یاست او که څنګه؟ خپله خویې داست ونه کړ، البته یارانو او بادارانو یې زموږ د ظاهر شــا هغه رسمي ګیله او عریضه هم د میز شــاته وغورځولــه چې د ملګرو ملتونو دفتر ته یې وړاندې کړې وه. په دې توګه د افغانســتان غصب شوې خاوره داده تر اوســه پورې داسې حال کې د پاکستان تر قبضې لاندې پاتې ده چې هلتــه ډېرې جګړې او جرګې ترسره شوې خوهیڅ وانه ورېدلې. تردې چې د پاکستان له جوړېدو درې پنځوس کاله وروســته انګریزان بیا له یو لوی اشر ســره راغلل، پاکستاني واکمنو ښــه په اخلاص ادې او لارې یې ورکړې، له هماغو اډوبه یې الوتکې او پلی لښکرې راتلې، موږ یې بمبارولو، وژلو او نیولو، خو مسلمان ګاونډي مو بې غمه پیسې اخیستې او مزې یې کولې. همدې وخت کې د پاکســتان عوامو کې هم ناخوښي او غوسه راوپارېده، مدرسې بمبار شوې او دیني علماء زنداني او ان پر صلیبیانو لاس ترلي و پلورل شول. په تېره بیا پښتونخوا کې خو سختې جګړې وشوې، سوات او ټولې قبایلي سیمې لوټه لوټه او په لکونو وګړي یې وشړل شول. مطلب ډېره بده ورځ راغله خو څرنګــه چې هغه مهال کابل د صلیبیانو په لاس کې و، ځکه خو پاکســتاني واکمنو هم هیڅکله دا شکایت ونه کړ چې په وینا یې دغه ترهګري کې د افغانســتان لاس دی. کنه ان لا هماغه وخت همدغه وزیرستاني کډوال له ډیورنډ کرښې راوښتي او د خوست خواوشا اوسېدل. همدا رنګه ټي ټي پي هم ان له (۲۰۰۷) میلادي کال راهیسې پاکستانی پوځ سره په سختو جګړو کې ښکېل و. ځکه خو به پاکستاني حاکمانو همېشــه امریکایانوته وریادوله چې دوی له ترهګرۍ سره د جګړې په لومړۍ کرښه کې ولاړ او په لس ګونو زره عسکریې وژل شــوي. لنډه دا چې ناټوخپل له شل کاله جګړو وروسته وتښتېدل او د پاکســتان پوځ بې یار و مددګاره پاتې شو خو پاکستان کې تاوتریخوالی هماغســې لا روان دی. اوس نو دوی ټولــه ملامتیا هم پر موږ اچوي او هلته د جنګ کرارولو غوښــتنې هم له موږ کوي. بل دا چې پر ډیورنډ کرښه اغزن جال منل او د مغصوبه ځمکې قباله هم رانه غواړي. اوس دې نو د پاکستان ټول مسلمانان خصوصاً دیني علماء او په تېره د پښتونخوا او بلوچستان ځورېدلي خلک انصاف وکړي چې ایا د افغانستان اسلامي امارت کولی شي پاکستان کې موجود تاوتریخوالی له منځه یوسي او ایا داسې کوم افغان به پیدا شي چې د نیولې ځمکې قباله ورته لاسلیک کړي؟ موږ خو اوس ایله دومره سااخیستې چې د څلوېښت کلنې جګړې زخمونه درمــل کړو او اصلاً په موږ کــې د لاس وهنې څه متره نه ده پاتې. بیا نو څه وجه ده چې پاکســتان خپلې ټولې ناجایزې هېروي، ګرده نړۍ کې هم زموږ پر خلاف شکایتونه کوي او کور کې مو هم په کرار نه پرېږدي؟

# موږ او د خپلواکۍ جنګونه؟

احمدعلي غزنی

د اسلام سپېڅلی لمر په مکه مکرمه کې راوخوت او ژر تر ژره د څلوېښتو کلونو په اوږدو کې آن تر افغانستانه راورسېده چې هغه مهال یې وګړي د مختلفــو عقیدو درلودونکي وو، ځکه دلته د زردشــتېزم، بودايیزم او نــورو دینونو پلویان موجود وو، چې د راشد خلیفه عمر فاروق رض په خلافت کې په(۱۶ هـ )کال د ساســانیانو امپراتور په جلولا کې مات شو، همداشان د نهاوند جګــړه کې په (۲۰ هـ) کې یې داســې ماتې وخوړه چې کسری(دریم یزدګرد) خراسان ته وتښتېده او همالته د یو ژرندګري په لاس ووژل شو.

د عمر رض په زمانه کې عبدالله بن عامر رض په کرمان برید وکړ چې وروسته تر کابله راورسېده او د افغانستان په نورو برخو کې هم مســلمانو فاتحینو ســوبې وکړې او ډېرې سیمې یې ونیولې، چې هلته هم د اســلام رڼا وځلېده، د رسول الله ص له اصحابانو څخه عبدالرحمن بن سمره رض د مشهور تابعي حسن بصري رح او نورو مجاهدینو په ملاتړ راغلو ، له جهاد ســره یې د دعوت او تدریس لړۍ ته هم دوام ورکړ. د خرپ او ترپ ډېر جنګونه شوي. د عبدالرحمن بن سمره رض له لوري مهلب بن ابي صفره رض د ختیځ قومندان وټاکل شو، چې آن تر اوسني مردان او د سند سیند تر غاړو راورسېد افغانانو چې د اسلام مبارک دین ومانه، بیا یې د اسلام لپاره ملاوې وتړلې نو تر بلوچستان، پېښور او سیند پورې پر مخ لاړل، چې هغه مهال لا د سند فاتح محمد بن قاسم رح زوکړی هم نه و.د اسلامي سوبو پر مهال افغانان له عربو مجاهدینو سره یو ځای د خیبر درې له لارې پېښور ته ښکته شول؛ حمزه بابا وایي:

خیبر خو لارد تلو راتلو ده
په کابل او پېښور کې افغان یو دی

خلافت امویانو ته ولېږدېده، ډېرې سوبې یې ورکړې. له هغو عباسیانو خلافت ونیوه د هغو پر مهال په خلافت کې درزونه راغلل او ځینې افرادو خپلواک حکومتونه اعلان کړل، چې په هغه لړۍ کې طاهر بن حسین پوشنجي هم په ۲۰۵ هـ کال په هرات کې د ازاد دولت بنسټ کېښود، په هغو پسې سامانیانو ازاد حکومت تأسیس کړ او ورپسې د غزنوي ستر واکۍ اساس کېښودل شو، چې ستر سلطان، سلطان محمود غزنوي ۱۷ ځله هند ته دغزا لپاره ور غلو، دا باید ذکر کړم چې یوازې د اسلام د خپراوي لپاره هلته تللی و، له غزنوي ستر واکۍ سره په غور کې د امیر کروړ په کاله کې غوریان راپورته شول.

زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نشته
په هند و سند پر تخار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته
بل په کابل نشته

شهاب الدین غوري رح او ملګري یې ان تر هندوستانه پورې ورسېدل.

ښنبتن مو مل دی
اوس مو یرغل دی
هېواد دبل دی
غازیانو ګــورئ
ښنبتن مو مل دی
د شهاب په ملا شئ
دښــن مو غوڅ کړئ
ښنبتن مو مل دی

د افغاني کهاله ستر سلطان شهاب الدین غوري د جنګ په ډګر کې د هندوانو پاچا راجه پرتهوي وواژه. دلته په لوی هندوستان کې افغاني زلمیو راج چلولو، د دې سیمې وګړیو ته هلته دوی دروازې ورټکولې، چې هغوی ته د اسلام بلنه ورکړې: اسلام راوړئ، کــه نه جزیه ومنئ او که دا هم نه منئ نو راځئ چې د جنګ په میدان کې یې سره معلومه کړو.

کله چې په کندهار کې پــه (۱۱۶۰هـ یا ۱۷۴۷ م) کال کې د افغاني مشرانو لخوا د احمدشاه بابا په مشرۍ نوی حکومت جوړ شو، خواوشا امنیت یې خوندي کړ، د خپلو سلفو واکمني یې په پښو ودروله، نو د امت ستر امام شاه ولي الله دهلوي رح د هند لور ته دعوت ورکړ، څو هلته اسلام او مسلمانان له مرهټیانو او نورو کفارو څخه خوندي او په امان کې کړي، هماغه و چې بابا رح د ولي الله په غوښتنه تر پاني پته لاړ او ډېر مرهټیان یې ووژل او دعوت او جهاد دواړو امامانو سره ولیدل.

د احمد شاه بابا او تیمور شاه تر وفات وروسته چا د شاه زمان خان ملاتړ ونه کړ او دلته د فرنګ زامن هند ته د ســوداګرۍ په پلمه راغلل، چې درې ځله یې په افغانســتان تېری وکړ ولې د افغانانو د غیرت او شــهامت له امله یې په خواوشا سیمه کې هم پښې ونښــوېېدې او له دې سیمې تېښې سترګې لاړل، ولې په دې ســیمې کې یې داســې پیریان پرېښــي چې هغوی د افغانســتان مستحکم حکومت نه شــي لیدلی، چې هغوی د ډیورنډ په تپل شــوي فرضي کرښــه اغزن سیم تېر کړ، هغه مهال یې وغځولو چې په افغانستان کې هم د غلامانو اداره وه. پاکستان خپلې ستونزې په خپل کور کې نه شي حل کولی نو د ټي ټي پي دغورځنګ دځپلو په بهانه یې په افغانستان باندې د ۲۰۲۴/۳/۱۸ نېټه هوایي بمبارد وکړ چې په پایله کې یې افغانانو ته مرګ ژوبله واړوله.

هوا! د بمبار وخت ډېر لرې و، له هغه مخکې خبرې هم کېدای شوې، د دواړو ګاونډیو هېوادونو دوستان هم شته باید هغوی ته شکایت شوی وای، که د ټي ټي پي افراد په افغانستان کې( د دوی په اصطلاح) شــتون ولري نو له ثبوت سره دې یې هغو دوســتانو ته وښیې، ولې له ثبوت پرته یې ناروا ظلم وکړ، چې د بمبار کولو په واســطه یې ۸ تنه شهیدان کړل او خورا زیات ظلم یې وکــړ، خو دروغجن حافظه نه لري؛ د ټي ټي پي د یو قومندان د وژلو دعوی یې وکړه، چې په افغانســتان وژل شوی ، په داسې حال کې چې هغه له وزیرستان څخه له رسنیو سره وغږېده او د خبرو په منځ کې یې دوشنبه او ۱۸ نېټه هم یاد کړل. دیاد ملک یرغل یو نا روا یرغل دی، ځکه TTP زموږ په هیواد کې نه شته او بل د پولې دواړو غاړو ته ورو نه قومونه پراته دي.دا هم په زغرده وایو چې له جنګونو هم نه دارېږو ، کمزوري به یو خو ښه تجربه په کې لرو!!

ټیټ مې مه بوله غورځنګ را باندې مه کړه
زه په دې افتاده ګۍ کې لوی ګرنګ یم

## شمال زون کې وروستیو سېلابونو ...

تــه د رســېدو رییس ویلــي چې د تېرې ورځې د ســیلابونو لــه امله یو ۱۲ کلن ماشــوم شــهید شــوی دی، درې کورونــه په بشــپړه توګــه او دیــرش کورونه نیمه ویجاړ شــوي دي.
په فاریاب، ســرپل او جوزجان ولایتونو کې یو شــمېر سېلاب ځپلي له سرپرست حکومته غوارې چې، په دې سخت وضعیت کې یې لاسنیوی وکړي.
فاریاب، ســرپل او جوزجان د شــمال له هغو ولایتونو ګڼل کیږي چې په دې وروســتیوکې نابیرو سېلابونو او اوربنتونو زیانمن کړي دي.

## در کابل ۵۵۵ جریب زمین ...

نعمت‌الله بارکزی نماینده شــهرداری کابل گفت: ((شــاروالی کابل در حدود یک ســال می‌شــود که برای کســی اجازه نمی‌دهد که در داخل قبرســتانی‌های که در داخل شــهر کابل اســت کســی را دفن کند. چون ظرفیت شان پر شده و ســاحات شان هم غیر پلانی است.
در حــدود چهارصد جریب زمین در ســاحه موســهی به همین موضــوع اختصاص داده شــاروالی کابل پیش از این نیز برخی از باشــنده‌های ناحیه‌های گوناگون شهر کابل از نبود مکان مناسب برای دفن جنازه‌های شان انتقاد کرده بودند.))
قابل یادآوری اســت که باشــندگان شــهر کابل از اقدام وزارت عدلیه ابراز خرسندی کرده است.

## د متوازني پراختیا په پار ...

مولوي عبدالرحمــن حقاني وویل، چې د ملګرو ملتونو پراختیایــي پروګرام دې په بغلان ولایــت کې د پروژو په تطبیق کې د متوازنې پراختیا په پلې کولو او بې وزلو کورنیو ته د دې ولایت په ګوټ ګوټ کې د یو شان مرستو په رسولو کې خپلې هڅې ترسره کړي.
حقاني په شمال ختیځ زون کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام له مسوول څخه وغوښتل چې بنســټیزې او پراختیایي پروژو دې د بغلان د اوسېدونکو د ستونزو د حل په موخه ترسره کړي څو خلکو ته په بېلابېلو برخو کې آسانتیاوې رامنځته شي.
په ورته وخت کې د شــمال ختیځ زون د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام مسوول ستاراوف وویــل، چې په روان ۱۴۰۳ کال کې ګڼې پروژې به په دغه ولایت کې پلي شــي او د بغلان د اوسېدونکو یادې ستونزې به هم د حل په موخه له خپل مرکزي دفتر سره شریکې کړي.
د بغلان اوســېدونکو مجتبی او فرهاد وویل، چې د بنسټیزو او پراختیایي پروژو په پلي کېدو سره د بغلان اوســېدونکو ته اسانتیاوې رامنځ ته کېږي او اړتیا ده چې مرستندویه سازمانونه او بنسټونه په دې برخه کې هلې ځلې ترسره کړي.

## ساخت پارک صنعتی در ناحیه ...

بعدی به اشتراک بگذارند. همچنین به مسوولان وزارت شهرسازی و مسکن وظیفه داده شد که طبق نقشه ساحه را بررسی کنند وبه کمیسیون اقتصادی گزارش دهند
قرار است پارک جهان توسط بخش خصوصی در ساحه ناحیه ۱۷ شهرهفدهم شهر کابل در مساحت ۱۵۰ جریب زمین ساخته شود.

## آغاز کارزار مبارزه با ...

معین آن وزارت و با حضور مســوولان سازمان خوراکه و زراعت ملل متحد در افغانســتان برگزار شــد. مولوی صدراعظم عثمانی گفــت: باید متخصصان وزارت زراعــت و ســازمان خوراک و زراعت نشســت مشــترکی را جهت هماهنگی برگزار کرده و هرچه عاجل برنامه مبارزه با ملخ را در شــمال کشور آغاز نمایند تا مزارع دهقانان از آفت ملخ در امان بماند. شــرکت کنندگان این نشســت آمادگی شان را برای آغار برنامه مبارزه با ملخ بیان داشتند.

## تېر کال نږدې یو میلیارد ...

صادرول دي.
هغه زیاته کړه چې د هېواد د صادراتو زیاتــه برخه کرنیز محصولات (پومبه، وچ انځر، ممیــز، هینــګ او د هینګ تخم، پیــاز، انګور، منه، زعفران، انــار او رومیان) دي چې پاکســتان، هندوستان، عربي متحدو اماراتو، قزاقستان، چین، ایران، ترکیې، ازبیکستان، تاجکستان او امریکا ته ترسره شوي دي.
دا په داســې حال کې ده چې افغانســتان په ۱۴۰۱ مالي کال کې د شاوخوا دوه میلیارده ډالرو په ارزښــت صادرات کړي چې ډېره برخه یې پاکســتان، چین، ایران، تاجکستان، ترکمنســتان او عربي متحدو اماراتو ته ترسره شوي وو.
په دغو صادراتي کرنیزو توکو کې د ډبرو ســکاره، لاســي صنایع او همدا رنګه وچې او تازه میوې شاملې دي.

## د ښځینه سوداګرو د ظرفیت ...

ته د نړیوالو بازارونو په موندنه کې هلې ځلې وکړي. ورته مهال د ښــځینه سوداګرو د مدیره پلاوي غړې فلوران ویلي، چې دوی په دې ســفر کې د ترکمنستان له ښځینه سوداګرو سره وکتل او یو شــمېر هوکړه لیکونه یې ور سره لاسلیک کړل. اغلې نوري زیاتوي، چې دوی په دې سفر کې د تاجیکستان له ولسمشر او دغه رنګه د سوداګرۍ له وزیر سره هم ولیدل.
د یادولو وړ ده چې اوســمهال په هیواد دننه ګڼې مېرمنې پر سوداګرۍ او نورو حرفو بوختې دي چې د افغان حکومت له پوره ملاتړه برخمنې دي.

## ډېر ژر به عینک ...

ښــاغلي بینګ زیاتــه کړې: د چین حکومت له لوري د ځمکــې لاندې د مس عینک د کېندنې طرحه بشــپړه شوې او اړوندو کلتوري بنســټونو ته په کتو به په ګډه کار وکړي.
ایم سي سي شرکت نوي رئیس ســونګ ون بینګ زیاتوي چې د مس عینک کان کیندنه به لرغونو اثارو ته په کتو پیل شــي. نوموړي ډاډ ورکړی، چې په خپله کاري برخه کې به د تاریخي اثارو خوندیتوب ته پوره پام وکړي.

## د دینــي قیـادت اصـلاح او روزنې ...

مــلا محمد عمر مجاهد رحمه الله په مشــرۍ میدان ته راووت او د ډېرو ســختو قربانیو په نتیجه کې یې خپل هېواد له ورپیښــې بدمرغۍ وژغورلو. مطلب دا چې په افغانانو کې دیني مشــران د هېواد ســاتنې، ژغورنې او اصلاح لپاره لومړۍ درجه ځواک لرلو سره سره د بېلابېلو سیاســي، قومي او ســمتي ډلو ترمنځ د نږدې والي او بشپړ ملی وحدت ټینګولو لپاره هم خورا مهم عامل ګڼل کېدی شــي. په دې اســاس دا مهال ترلاســه شوي فرصت کې د اســلامي امارت یوه ډېره مهمه ذمه واري دا هم ده چې د هېواد او خلکو دغه ځواک پــه اصلاح او روزنه کــې انتهایي ډېره هڅه وکړي. د دغه هدف ترلاســه کولو په موخه تر هرڅه ړومبی د دیني مدارســو او مراکزو لپاره د ښوونې او روزنې یو غوره نصاب جوړول انتهایي ډېر مهم دي. ځکه د همدغو تعلیمي مراکزو فارغان به د ســبا ورځې مشــران وي همدارنګه د موجوده امامانو، خطیبانو او ښوونکو د روزنې لپاره د مکړۍ هم تر خپله وسه ځینې لنــډ مهالې برنامې لکه امتحانونه او څه علمــي دورې چمتو کول په کار دي. موږ ټول باید په یاد ولرو چې که په دې ډګر کې مو پرمختګ وکړ او ښــه د کار ســرې موروزل نو باور دی چې راتلونکی نســل به مو هم ښه هوښیار، بیدار او له هر ډول ناولتیا پاک وي او کېدی شــي همدا لوړ کلتور او ثقافت مو د ملت په غېږ کې تر پېړ یو همداسې خوندي پاتې شــي. دا یو ســپېڅلی ارمان دی او هر با احساســه افغان ته لازمه ده چې په دې اړه خپل وس - توان ونه سپموي.

## افغان ولس په پوره مېړانه ...

دفاع وکړي.
د ماشومانو سربېره ځوانان، پېغلې، مېرمنې، لویان هغه که مسلمانان دي، که سېکان دي او که هندوان، ټول چمتو دي، چې په قوي جذبې سره او کمو امکاناتو سره دښمن ته ځواب ورکړي.
نــو ټولې نړۍ ته پکار ده، چې افغانانو ســره پوځی مخامخېدل ځــان کندې ته غورځول دي، ښــه خبره دا ده، چې د سیاســي تعامل لاره وټاکي او لــه تاوتریخوالي څخه لاس واخلي.


# افغان اعلانات

### اطلاعیه فروش موتر

اســامی محترم نوی احمد الله افغــان لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۱۷۷۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعــد از طی مراحل قانونــی خرید و فروش بالای پرویز فرزند داد محمد بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۲

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نور امین شمس لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۵۶۸۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای میوند فرزند عبدالصمد بفروش رســانیده اســت. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۲

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم راز محمد فرزند حاجی محمد یک عراده موتر پلیت ۲۴۲۳۴ بس کابل نوع کاستر جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای وزارت معادن و پطرولیم بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۶

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سید ابراهیم فرزند محمد اکرم یک عراده موتر پلیت ۱۷۷۵۸ بس کابل نوع کاستر جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای وزارت معادن و پطرولیم بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۹۱۴۵-۲ ش کابــل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ســید محمد فرزند سید شاه بفروش رســانیده است. بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سمیع الله احمدزی لمتید یک عراده موتر پلیــت ۴۵۸۴۱ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای فیص الدین فرزند حسام الدین بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع

دهند. ۷

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم تمیم یاســر لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۸۵۲۱ ش کابــل نوع تیوتا کــرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالغنی فرزند محمد اکرم بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۶

***

### اطلاعیه فروش موتر

اســامی محترم تمیم یاسر لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۳۷۶۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای آغا محمد فرزند مرزا محمد بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیــت ۹۶۱۲-۲ ش کابل نــوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عتیق الله فرزند گل رحیم بفروش رســانیده است. بناء اشخاص ادارات و موســســاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حمید نوید لمتید یک عراده موتر پلیــت ۲۵۶۸۲-۳ ش کابــل نوع تیوتا کرولا ســالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ربیع الله فرزند زراعت خان بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۶۱۸۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمدا جان فرزند وزیر محمد بفروش رســانیده اســت. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲

***

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اســامی محترم غلام حبیب فرزند غلام صدیق ولدیت غلام حیدر دارنده جواز نمبــر (۴۰۱۸) مورخ ۱۲/۱۰/۱۴۰۰ متصــدی رهنمای معامــلات (غلام حبیب حیدری) واقع (موتر فروشی های ارزاق قیمت) ناحیه (۱۲) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هــر گاه ادارات دولتی و اشــخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشــر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۱

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد هاشــم فرزند عبدالغنی ولدیت دوست دارنده تذکره نمبر (۹۱۴۵۱) مســکونه اصلی ولایت فاریاب مالک امتیاز دواخانه هاشم غنی زاده واقع مرکز ولایت فاریاب طی درخواســتی به مقــام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانســتان عــارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم نعمت الله رسولی فرزند حیات الله ولدیت عبدالرسول دارنده تذکره شماره (۶۹۷۴۰-۱۲۰۰-۱۴۰۱) مســکونه اصلی ولایت فاریاب گردیده است.
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشــر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذاوادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۱۸

***

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم محمد اکرم احسان فرزند حاجی محمد ولدیت تاج محمــد دارنده تذکره نمبــر (۸۹۴۷۴-۰۳۰۰-۱۴۰۱) مســکونه اصلی ولایت هلمنــد مالک امتیاز دواخانه اکرم احســان واقع ناحیــه اول ولایت هلمند عنوانــی این اداره عــارض و از مفقودی مهــر دواخانه خویش خبر داده است
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشــر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۳

***

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم سعدیه بنت نصر الله ولدیت غلام یحیی دارنده تذکره نمبر (۴۳۷۵۱-۰۹۰۰-۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت بغلان مالک امتیاز دواخانه ابوریحان واقع ناحیه دوم ولایت کابل عنوانی ایــن اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشــر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۹

***

### اطلاعیه ضرورت خانه کرایی

ریاست معارف شهر کابل جهت تدریسی شاگردان لیسه ذکور سید یوسف علمی نمبر دوم مربوط حوزه هفدهم تعلیمی در سال ۱۴۰۳ به حویلی که حد اقل ۳۰ اطاق داشته باشد ضرورت دارد.
اشخاص که در ساحه همچو تعمیر داشته باشند و طور کرایه به قرار داد بدهند میتوانند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت عمومی تدارکات ریاست معارف شــهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند.۱۱

***

### اطلاعیه تغییر ملکیت شرکت

تشبیث (تجارتی عبدالله اسرار لمتید) دارنده جواز نمبر (۶۲۷۰۵) طی یک قطعه عریضه و تصویب این ریاست خواهان تغیرات شده اند که محترم سمیع الله فرزند نور محمد معاون بر حال با حفظ ٪۵۰ سهم خویش بحیث رئیس جدید تعین و محترم روح الله امین رئیس اســبق از ریاســت استعفا و از جمله ٪۵۰ سهم خویش ٪۳۰ سهم را به محترم سمیع الله فرزند نور محمد رئیس جدید شرکت واگذار نموده که سهم آن ٪۸۰ میشود و باقیمانده ٪۲۰ سهم را به محترم صفت الله نوری فرزند نجیب الله دارنده تذکره نمبر (۲۲۰۱۰-۱۱۰۰-۱۳۹۹) واگذار نموده که نامبرده به حیث معاون جدید تعین میگردد.
بناء اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی در مورد اگاهی حاصل نموده از تاریخ نشــر اعلان الی مدت ده یوم به ریاســت عمومی اداره ملی غذا و ادویه افغانستان واقع محمد جان خان وات متصــل وزارت مخابرات اطلاع دهند.۱۳

***

### اعلان مزایده

شرکت انکشاف ملی در نظر دارد، تا مقدار (۲۰۰,۰۰۰) دوصد هزار تن سمنت تولیدی فابریکات سمنت غوری خویش را از طریق مزایده به فروش برساند، اشخاصیکه خواهان اشتراک در مزایده باشد، میتواند شرطنامه فروش سمنت فوق الذکر را از دفتر مرکزی شرکت انکشاف ملی واقــع قصبه،کابل دریافت نموده و آفر های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی روز (شنبه) مورخ (۱٤۰۳/۰۱/۱۱) به آمریت روابط عامه شرکت انکشاف ملی واقع ناحیه ۱۵، قصبه،کابل تسلیم نمایند، آفرهای نا وقت رسیده و اینترنتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه مزایده به روز شنبه ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر مورخ (۱٤۰۳/۰۱/۱۱) در تالار جلسات این شرکت تدویر میگردد.

***

### دعوت به داوطلبی

عنــوان: پروژه تهیه وتــدارک (٤٤) قلم لــوازم دفتری، فرنیچرباب، و وسایل آشپزخانه مورد ضرورت شعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت ســال مالی ۱٤۰۳
:شماره دعوت به داوطلبی:
-MOHE/1403/NCB/G 03
وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک (٤٤) قلم لوازم دفتری، فرنیچرباب، و وسایل آشپزخانه مورد ضرورت شــعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت سال مالی ۱٤۰۳ اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاســت تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربســته از تاریخ نشر اعلان الی ســاعت {۱۰:۰۰{ قبل از ظهر روز { شنبه } تاریخ{۲۵ حمل ۱٤۰۳} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالــی واقع کارته چهار ناحیه ســوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به شکل بانک گرنتی: به مبلغ (۲۵۵،۰۰۰) دو صدو پنچاه و پنچ هزار افغانی
جلســه آفر گشایی به روز { شــنبه} تاریخ {۲۵ حمل ۱٤۰۳} ســاعت {۱۰:۰۰ قبــل از ظهر}در{صالون آفرگشایی ریاســت تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان} تدویر می گردد. شماره تماس:۰۲۰۲۵۱٤۰۷۸
آدرس الکترونیکی:
rafiullah.naeemi@gmail.com
نوت: جلســه قبل از آفر گشــایی سه شــنبه ١٤ حمل ۱٤۰۳ســاعت ۱۰:۰۰قبل از ظهر در دفتر جلســات ریاست تدارکات تدویر میگردد.

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه اعمار یک باب تشــناب ریاست انکشاف برنامه های علمی شماره دعوت به داوطلبی:
MOHE/1403/NCB/W-01
وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروســه پــروژه اعمار یک باب تشناب ریاست انکشاف برنامه های علمی
اشتراک نموده و نقل چاپ شــده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۳۰:۰۹{ قبل از ظهر روز{ پنج شنبه } تاریخ {۲۳ حمل ۱٤۰۳} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانســتان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر به شکل بانک گرنتی: ۳۳۰۰۰ سی و سه هزار افغانی
جلسه آفر گشایی به روز {پنج شنبه} تاریخ {۲۳ حمل ۱٤۰۳} ســاعت {۳۰:۰۹ قبــل از ظهر}در{صالون آفرگشایی ریاســت تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان} تدویر می گردد.
شماره تماس:۰۲۰۲۵۰۰۳۱۸
نوت: جلسه قبل از آفر گشایی یکشنبه ۱۲ حمل ۱٤۰۳ ســاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در دفتر جلسات ریاست تدارکات تدویر میگردد.

Shariat Daily

# شریعت

د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شريعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

# Shariat

Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ويب سايت:

Saturday 23 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 411


**داکتر قلندر عباد:**

## تقویت سیستم صحی کشور اولویت کاری ما است

سرپرست وزارت صحت عامه در دیدار با والی جوزجان گفت، تقویت سیستم صحی یکی از اولویت های کاری آن وزارت است که نمونه آن ایجاد مراکز صحی در مناطق دور دست در کشور منجمله مناطق دوردست در جوزجان است.



دفتر مطبوعاتی وزارت صحت عامه دیروز با نشر این خبر گفته است: دراین دیدار کاری، داکتر قلندرعباد سرپرست آن وزارت وقاری گل حیدر شفق والی جوزجان روی بهبود و تقویت سیستم صحی، رسیدگی به وضعیت صحی نیازمندان در این ولایت و موضوعات مهم دیگر بحث و تبادل نظرکردند.

سرپرست وزارت صحت‌عامه به والی جوزجان اطمینان داده گفت: تقویت سیستم صحی یکی از اولویت های کاری ما بوده و در این اواخر توجه ویژه یی به ولایت جوزجان شده است که نمونه آن ایجاد مراکز صحی در مناطق دور دست دراین ولایت بوده که این برنامه ادامه دارد.

## رویدادهای خارجی

**عمران خان:**

### اوسنی حکومت به په څو میاشتو کې سقوط شي

د پاکستان پخواني لومړي وزير او د تحريک انصاف ګوند مشر عمران خان ويلي چې ښايي اوسنی حکومت څلور يا پينځه مياشتې وپايیږي.

هغه په دې باور دی، چې د حکومت سقوط به له اډياله زندانه د هغه د خلاصون لپاره لاره هم هواره کړي.

عمران خان خبريالانو ته په خبرو کې ويلي چې په همدې دليل يې کابينه کې پيپلز ګوند نه دی ځای کړی.

ښاغلي خان وويل، چې د هغه په وړاندې قضيه بې بنسټه ده او ادعا يې وکړه، چې بيت المال ته هيڅ زيان نه دی رسېدلی ځکه چې له انګلستان څخه لېږدول شوې پيسې د حکومت په واک کې وې او د جرم هيڅ نښې نښانې په کې نه ليدل کېږي.

نوموړي په دې وروستيو کې د کابل او اسلام اباد پر اړيکو خواشيني ښودلې او ويلي يې دي چې بايد اسلام اباد له افغان حکومت سره غوره اړيکې وپالي.

**عربي هېوادونه:**

### غزې ته غځېدلې لارې دې پرانيستل شي



د يو شمېر عربو هېوادونو بهرنيو چارو وزيرانو په يوه ګډه اعلاميه کې د ټولو هغو لويو لارو د پرانيستې ويلي چې غزې ته غځېدلې دي.

دغو بهرنيو چارو وزيرانو په ځغرده ويلي چې غزې ته دې ټولې هغه لارې پرانيستل شي چې بشري مرستې پرې رسول کيږي.

دې اعلاميه کې، چې د سعودي عربستان، قطر، مصر، اردن او متحده عربي امارتو د بهرنيو چارو وزيرانو له لوري خپره شوې، د اسراييلو له لوري د رامنځته شويو خنډونو د لرې کېدو غوښتنه شوې، تر څو هغه دوه ميليونه فلسطينيانو ته بشري مرستې ورسيږي، چې د لوږې له ګواښ سره مخ دي.

د عربي هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو دغه اعلاميه د مصر په پلازمېنه قاهره کې د امريکا د بهرنيو چارو له وزير سره په غزه کې د اوربند د رامنځته کولو په موخه له خبرو سره هم مهاله خپره شوې ده.

د يادولو وړ ده چې صهيونستو اسراييلو غزې ته ټولې هغې لارې تړلې چې فلسطينيانو ته پرې مرستې رسول کيږي.

### رييس جمهور ويتنام استعفا داد

با تحولات سیاسی اخیر در ویتنام رسانه‌های دولتی این کشور به تازگی اعلام کردند که رئیس‌جمهور این کشور پس از یک سال، از سمت خود استعفا کرد.

رسانه های ویتنام روز پنج‌شنبه، دوم حمل گزارش دادند که وان تOونگ، رئیس جمهور این کشور خود را به تخلف و کوتاهی متهم کرده و سپس استعفا داده است.

در همین حال کمیته مرکزی حزب کمونیست حاکم این کشور همچنان استعفای رییس جهور این کشور را پذیرفته است.

از سوی هم خبرگزاری رسمی ویتنام اعلام کرد رئیس جمهور مقررات (نامشخص) را نقض کرد و نتوانست به عنوان رئیس جمهور باشد.

سال گذشته، نگوین ژوان فوگ در پی اتهام «تخلف» کارکنان تحت امر خود از ریاست‌جمهوری ویتنام کناره‌گیری کرد و تونگ بعد از یک‌ماه و نیم رایزنی اعضای پارلمان این کشور، جانشین او شد. استعفای تونگ چند روز بعد از اعلام دستگیری استاندار سابق کوانگ نای به اتهام فساد در دوره‌ای صورت می‌گیرد که تونگ رئیس ستاد حزبی این استان بوده است.


**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


**معین وزارت زراعت و مالداری؛**

### آغاز کار زار مبارزه با ملخ‌ها در شمال کشور



معین وزارت زراعت آبیاری و مالداری در یک نشست درآن وزارت گفت:متخصصان این وزارت باید هر چه زودتر کار زار مبارزه با ملخ را در شمال کشور آغاز نمایند تا کشتزار ها از آفت ملخ در امان بمانند.

دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت آبیاری و مالداری دیروز با نشر این خبر گفته است: این نشست به سرپرستی مولوی صدراعظم عثمانی ... ص۳

### در کابل ۵۵۵ جریب زمین به قبرستان اختصاص داده شده

وزارت عدلیه می‌گوید که پنجصد و پنجاه و پنج جریب زمین دولتی در منطقهٔ ده‌کیپک ناحیهٔ هفدهم شهر کابل برای قبرستان عمومی وقف کر ده است.

به گفته‌ی این وزارت، این زمین به وزارت ارشاد، حج و اوقاف، وقف و انتقال خواهد شد.

برکت‌الله رسولی سخن‌گوی وزارت عدلیه گفت: به همین اساس شهروندان کشور می‌توانند با هماهنگی وزارت ارشاد، حج و اوقاف، اجساد خود را بطور منظم دفن کنند.

هم‌زمان با این، تصمیم وزارت عدلیه شماری از باشنده‌های ناحیه هفدهم شهر کابل از نبود مکان مناسب برای دفن جنازه‌های شان انتقاد می‌کنند.

نماینده شهرداری کابل نیز می‌گوید که حدود چهار صد جریب زمین در ساحه موسهی شهر کابل برای قبرستانی عمومی اختصاص داده شده است. ص۳

### شمال زون کې وروستيو سېلابونو درې تنه مړه کړي

مسوولين وايي چې د هېواد په شمالي ولايتونو( فارياب، سرپل او جوزجان) ولايتونو کې د وروستيو سېلابونو له کبله درې تنه مړه شوي دي.

د مسوولينو په وينا د دغو سېلابونو له امله څه بانډې ۲۸۰ کورونه، سلګونه جريب کرنيزه ځمکه، نښلونکې لارې او پلچکونه زيانمن شوي او سلګونه څاروي هم له منځه تللي دي

ويل کيږي چې د فارياب په (المار، قيصار، چلګزي، سبزه پوش او کوهساناتو) ولسواليو کې سېلابونو يو تن هيوادوال خپل ژوند بايللی دی او درې ماشومان په قيصار ولسوالۍ کې سيلابونو وړي چې يو يې مړ او دوه نور يې ژغورل شوي دي.

د سرپل طبيعي پېښو ... ۳مخ



**د بغلان والي:**

### د متوازنې پراختيا په پار دې کار وشي



د بغلان والي په خپل کاري د فتر کې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د شمال ختيځ زون له مسوول خوشنيد ستاراوف او د دې اداري له کارکوونکو سره په ناسته کې د متوازنې پراختيا په پلي کولو ټينګار وکړ.

د ياد ولايت والي ... ۳مخ

### آغاز کار ساخت تعمیر تجهیزات اداره ملی ستندرد در خوست

اداره ملی ستندرد کار ساخت تعمیر تجهیزات لابراتوارهای را در ساحه پنج جریب زمین در ولایت خوست اغاز کرد.

این اداره بانشر این خبر نگاشته است: کار ساخت تعمیر تجهیزات این اداره به اساس درخواست اداره ملی ستندرد و حکم عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله در مساحت پنج جریب زمین در ولایت خوست اغاز شده است.

به اساس این حکم وزارت زراعت، آبیاری ومالداری مکلف است تا به منظور تثبیت کیفیت و استندرد سازی کالای تجارتی و نفتی پنج پنج جریب زمین در تمامی ولایات و بندر ها در اختیار اداره ملی ستندرد قرار دهد.

### کابل کې شپږ ژورې څاه ګانې وکيندل شوې

د چارو عمومي اداري اړوند د ساتنې او مراقبت او تعميراتو رياست له لوري د دارالامان ماڼۍ، پارلمان ودانۍ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو انسټيټيوټ، تخنيک رياست او ټرانسپورټ کې شپږ ژورې څاه ګانې، چې چارې يې څه وخت وړاندې پيل شوې وې، بشپړې شوي او اوس ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي.

د چارو ادارې د ساتنې او مراقبت تعميراتو رياست مسئولينو ويلي، په دې اداره کې د بېلابېلو سيمو د اړتيا په اساس د شنو سيمو د اوبو کولو په موخه ژورې څاه ګانې کيندل شوي تر څو دغه سيمې شنې او ابادې وساتل شي. د دغو څاه ګانو د کيندنې کارونو چې ۴۰ ورځې وخت يې نيولی د ۲۵۰ متره په ژوروالي دوه ميليونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د چارو اداري د عمومي رياست له عادي بوديجې څخه ورکړل شوې دي.

### تفاهمنامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین و موسسه آغاخان به امضا رسید

دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان امروز با ارسال این خبر به آژانس باختر نگاشته است:به اساس تفاهمنامه یاد شده، موسسه آغاخان برای اسکان، دوصدو ۸۳ هزارو ۹۹۸ دالر آمریکایی را دربخش ارزیابی وشناسایی افراد دارای نیازمندی خاص، انتقال و نصب ۵۰۰ بسته برق آفتابی فراهم شده توسط دونر، انتقال و توزیع مواد غیر خوراکی فراهم شده توسط دونرها در ولایات بدخشان، کندز، بغلان، تخار، بلخ، سمنگان، فاریاب، سرپل و جوزجان به مصرف خواهد رسانید که۳ هزار ۷۰۰ خانواده از مزایای آن مستفید خواهند شد. تفاهمنامه یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت و نماینده موسسه یاد شده به امضا رسید.